ر

رمبې

دا رمبې تېره دی.

زما تېره رمبې خوښيږي.

بزګر په تېره رمبې کار کوي.

په تېره رمبې کار ګول اسان وي.

ړ

ړوند

دا هلك ړوند دی.

ړوند هلك هر چاته اړ وي.

د ړانده سره مرسته ثواب لري

زه د ړانده هلك سره مرسته کوم.

ز

زمری

دا زمری دی.

دا زمری غټ دی.

زمری قوي ځناور دی.

زمری تر ټولو ځناورو قوي دی.

ږ

ږمنځ

دا ږمنځ نوې ده.

نوې ږمنځ پاکه وي.

زما پاکه ږمنځ ښکلې ده.

زه په پاکه ږمنځ ویښتان ږمنځوم.

ژ

ژبه

ژبه د خبرو لپاره ده.

زه په ژبه خبرې کوم.

په ژبه بنې خبرې ثواب لري.

زما بنې خبرې خوښيږي.

س

سپوږمي

دا سپوږمي کږده ده.

ګرده سپوږمي روښانه وي.

روښانه سپوږمي ډېره ښکلې وي.

د سپوږمي رڼا هر چاته ګټه لري.

ش

شمع

دا شمع ده .

شمع رڼا کوي .

دشمع رڼا لږه وي .

شمع په تیاره کښې پکاریږي .

زه په تیاره کښې شمع

بلـــوم .

ښ

ښارو

دا ښارو ښایسته ده.
زما ښایسته ښارو خوښیږي.
زمونږ په باغ کښي د ښارو
ځاله ده.

بناروپه ځاله کښېنې هګۍ

اچوي .

د بنارو له ځالي څخه

ېې اخیستل ګناه ده .

۵ - تاسې په کوم ډول پیالوکښې چای څښئ ؟

٦- له چای څښلو څخه مخکې پیالې مینځل څه ګټه لري؟

٧- پیالې ولې ماتیږي ؟

٨ - پیالې په کوم ځای کښې خرڅیږي ؟

٩- ستاسې په کلي کښې د پیالوخرڅولو دکان شته؟

١٠- تاسې په کورکښې په غټو پیالوکښې چای څښئ

اوکه په وړو کښې ؟

ص

صندوق

دا صندوق دی.

دا د لړکي صندوق دی.

زه په کور کښې د لړکي

صندوق لرم.

د لرګي صندوق ارزانه

وي .

زه په صندوق کښې

کتابونه ساتم .

ض

ضعیف

داسړی ضعیف دی.

ضعیف سړی کړوپ کړوپ

ځي.

زه د ضعیف سړي سره

مرسته کوم .

د ضعیف سړي سره

مرسته ثواب لري .

ط

طوطي

دا طوطي شين دی .

شين طوطي ښکلی وي .

ښکلی طوطي د هرچا خوښ

وي .

طوطي خبري كوي .

زما د طوطي خبري

خوښيږي .

ظ

ظالم

دا سړی ظالم دی.

زه ظالم سړی نه خوښوم.

ظالم سړی د هیچا نه خوښیږي.

روسان ظالمان دي .

مونږ د ظالم په مقابل

کښي جهاد کوو .

ع

عالم

دا سړی عالم دی.

عالم سړی ډېر ښه خوښوي

عالم د دین خدمت کوي.

زه د عالم خدمت کوم.

غ

غوا

دا غوا سپینه ده .

مونږ په کورکښې سپینه

غوا لرو .

زما سپینه غوا خوښه ده .

ت

توره

ښوونکی دې د تورې په باره کې لاندې پوښتنې وکړي:

۱ـ دا څه شی دی؟

۲ـ توره له څه شي څخه جوړېږي؟

۳ـ تاسې توره لیدلې ده؟

٤ـ توره څه وخت استعمالیږي؟

۵ـ تاسې په کور کښې توره لرئ؟

زمونږ غوا ډیرې

شیدې کوي.

د غوا شیدې ډیرې

ښې دي.

ف

فيل

دا فيل دی.

فيل ډېر لوی حيوان دی.

ما فيل ليدلی دی.

فيل خلتم لري.

فيل په خلتم خوارېږه

رانيسي .

ق

قرآن کریم

قرآن کریم د الله ﷻ کتاب دی.

موږ په قرآن کریم ایمان لرو.

زه د قرآن کریم تلاوت کوم.

د قرآن کریم تلاوت ثواب لري.

ک

کټ

دا کټ دی.

کټ له لرګي څخه جوړیږي.

کټ په بوڼ بڼل کیږي.

زه په کور کښې ښه کټ

لـــ رم .

زه په کټ کښې خوب کوم .

ګ

ګل

دا د ګلاب ګل دی.

ګلاب ښه ګل دی.

د ګلاب ګل ښه بوی لري.

زمونږ په باغ کښې د ګلاب

بوټي شته .

د ګلاب ګل د هر چا

خوښ وي .

ل

لور

دا لور دی.

دا لور تېره دی.

په تېره لور بنه لوګیږي.

بزګر په تېره لور لوکوي.

مونږ په کورکښې تېره لوړ

لرو.

زما پلار په لوی لوړ

لوکوي.

٦ـ ستاسې توره پوښ «تېکی» لري؟

٧ـ ستاسې توره لويه ده او که وړه؟

٨ ـ په جهاد کښې توره په کار ېږي او که نه؟

٩ـ پخوا مسلمانانو په څه شي جهاد کاوه؟

١٠ـ اوس په افغانستان کښې مجاهدين پرته له ـ
توري څخه په څه شي جهاد کوي؟

م

منګی

دا منګی شین دی .

د شین منګي او به یخې وي .

زما د شین منګي او به

خوښې دي .

هر څوك په ګرمى كښې

د شين منګي او به څښي .

زه هم په ګرمى كښې د

شين منګي او به څښم .

ن

ناك

دا ناك پوخ دی.

پوخ ناك خوږ وي.

زما پوخ ناك خوږ دی.

ژمونږ په باغ کښې د ناك

ونه شته .

په افغانستان کښې د

ناک ونې ډېرې دي .

ڼ

منه

دا منه سره ده.

سره منه ښخه وي.

د ښخو منو خوړل بدن ته

ډېره ګټه لري.

زه خامه منه نه خورم.

مني د مني په موسم کښې

پخیږي.

زمونږ په وطن کښې د-

منو باغونه ډېر دي.

و

ونه

دا د توت ونه ده .

د توت ونه ډېرې ګټې لري.

د توت ونه توتان کوي .

توت ډېره خوږه مېوه ده.

د توت ونه بنه سيوری
لري .
خلك په اوړي كښي د توت
د وني تر سيوري لاندي كښيني .
د توت د وني لرګي د سونګ
لپاره ښكاريږي .

ځ

ځګی

داد چرګې ځګی ده.

زما چرګه سپینې ځګی.

اچوي.

زما د چرګې ځګی خوښیږي.

ځکه خو ښکلی بدن ته دېره

ګټه رسوي .

چې په ځیګو ګښیني .

د الله ج په قدرت له ځیګو

شخه څېږي راوځي .

ټ



ټوپک

ښوونکی دې له زده کوونکو څخه لاندې پوښتنې وکړي:

۱ـ دا د څه شي رسم دی ؟

۲ـ تاسو ټوپک لیدلی دی ؟

۳ـ ټوپک له څه شي څخه جوړ شوی دی ؟

۴ـ تاسو په کور کښې ټوپک لرئ ؟

۵ـ ټوپک بې له ښکار تو سوهزې کوي ؟

ی

یوم

داد بزګر یوم دی.

بزګر په یوم کار کوي.

یوم له اوسپني څخه جوړيږي.

د یوم لاستی له لرګي وي.

[illegible]

زمونږ د کلي ښېښه

یوم جوړوي .

زما پلار په باغ کښې په

یوم کار کوي .

٦ـ مجاهدین په ټوپك باندې څوك ولي ؟

٧ـ تاسو څو ډوله ټوپك پېژنئ ؟

٨ ـ تاسو ټوپك ډزې خوښوئ ؟

٩ـ تاسو مجاهدینو ټوپك ډزې اورېدلي ؟

١٠ـ روسانو پر تاسو باندې كله د ټوپك ډزې كړې دي ؟

ث

ثمر

١ـ تاسو په دې شکل کښې څو قسمه رسمونه وینئ ؟

٢ـ تاسې ثمر پېژنئ ؟

٣ ثمر د چا نه خوښیږي ؟

٤ـ د ثمرونې ستاسې په باغ کښې شته ؟

٥ـ ثمر روغتیا ته څه ګټه رسوي ؟

٦ـ ستاسو په باغ کښې څو قسمه ثمرلرونکي ونې شته ؟

۷- د ثمرلرونکو ونو نومونه واخلئ ؟

۸- ستاسو په کلي کښې ثمر لرونکي باغونه څوك لري ؟

۹- تاسو له بې ثمره ونې څه گټه اخلئ ؟

۱۰- د بې ثمره ونو نومونه واخلئ ؟

ج



جام

١- د دې شکل نوم څه دی ؟

٢- جام د څه لپاره په کار یږي ؟

٣- تاسې په کور کښې څو جامونه لرئ ؟

٤- ستاسې د کور جامونه واړه دي که غټ ؟

٥- جام په کوم ځای کښې خرڅیږي ؟

٦- ستاسې څه ډول جام خوښیږي ؟

٧- پرته له جام څخه نور کوم شیان د-

اوبو ښنبلو لپاره په کار یږي ؟

۸- په پاک جام کښې اوبه ښنبل څه ګټه لري ؟

۹- جام او کندول څه فرق لري ؟

۱۰- خلك په جام کښې چای ښنبي که اوبه ؟

ح

حج



١ـ دا رسم د څه شي دی ؟

٢ـ د بيت الله شريف کوټه چرته ده ؟

٣ـ ستاسي په ټولګي کښي د چا پلار حاجي دی ؟

٤ـ مسلمانان ولي حج ته ځي ؟

٥ـ حج په کومو خلکو فرض دی ؟

٦ـ تاسو د حج کولو سره مينه لری ؟

بسم الله الرحمن الرحیم

۱



الله اکبر

۱- آیا تاسو اذان اوریدلی دی ؟

۲- د اذان کولو په وخت کی ملا کوم لوري ته دریږي ؟

۳- اذان د څه لپاره کیږي ؟

۴- اذان په کوم وخت کي کیږي ؟

۵- په اذان کی څه ویل کیږي ؟

۶- څوک به اذان وکړي ؟

۷- اذان څنګه شروع کیږی ؟

۸- الله اکبر څه معنا لری ؟

۷ـ ستاسې په کلي کښې څوکسه حاجيان شته؟

۸ـ حاجيان حج ته په څه شي کښې ځي ؟

۹ـ مسلمانان څه وخت حج ته ځي ؟

۱۰ـ حج د اسلام څومه بناء ده؟

چ



چرګ

۱- دا د څه شي رسم دی؟

۲- تاسو چرګ لیدلی دی؟

۳- تاسو په کورکښې چرګ لرئ؟

۴- ستاسو چرګ اذان کوي؟

۵- د چرګ غوښه ستاسې خوښه ده؟

۶- چرګ څوپښې لري؟

۷- تاسې کوم رنګ چرګ خوښوئ؟

۸ـ د چرګانو جنګول ولې وبال لري ؟

۹ـ خلک ولې چرګان واکسین کوي ؟

۱۰ـ ستاسې چرګ تاج لري ؟

۱۱ـ تاسو د چرګانو فارم لیدلی دی ؟

څ



څپلۍ

۱ـ تاسو دا شکل پېژنئ ؟

۲ـ ته څپلۍ لرې ؟

۳ـ ستا څپلۍ څه رنګ لري ؟

۴ـ ستاسو کوم رنګ څپلۍ خوښېږي ؟

۵ـ څپلۍ څوک جوړوي ؟

۶ـ تاسو ولې څپلۍ په پښو کوئ ؟

۷ـ تاسو خپلې څپلۍ د څه شي په واسطه رنګوئ ؟

۸- ستا څپلۍ څو روپۍ قیمت لري ؟

۹- ته څو جوړه څپلۍ لرې ؟

۱۰- په تاسو کښې د چا څپلۍ شلېدلي دي ؟

۱۱- په تاسو کښې داسې هلك شته چې څپلۍ نه لري؟

۱۲- په اوړي کښې ولې زیاتره خلك څپلۍ په پښو کوي ؟

۱۳- څوك چې څپلۍ نه په پښو کوي بدن ته یې څه ضرر رسېږي ؟

۱۴- څپلۍ له څه شي څخه جوړېږي ؟

۱۵- تاسې ولې جومات ته د څپلیو سره نه داخلېږئ؟

ځ

ځاله

بنوونکی دې له شاګردانو
څخه په لاندې ډول پوښتنې وکړي:

۱ـ دا څه شی دی؟

۲ـ دا د څه شي ځاله ده؟

۳ـ ستاسې په کورکښې د مرغۍ ځاله شته؟

۴ـ مرغان هګۍ چېرته اچوي؟

۵ـ د مرغانو له ځالې څخه هګۍ او یا بچي راخستل
څه ګناه (وبال) لري؟

خ

خدای جل جلاله

خدای جل جلاله یو دی .
بل خدای جل جلاله نشته .
زه خدای جل جلاله پیدا کړی یم .
۱- ته چا پیدا کړی ئې ؟
۲- ته د چا بنده ئې ؟
۳- د خدای پاك کوم دین خوښیږي ؟
۴- خدای پاك موږ د څه لپاره پیدا کړي یو ؟

محترم ښوونکی دې زده کوونکی وپوښتي چې ؟

۱- د خدای ج په کلمه کې لومړی توری «خ» نومیږي .
۲- دغه رازختکی ، خوږ او خولی کلمې هم په «خ» پیل کیږی .
۳- د «خ» توری په توره تخته او بیا په کتابچوکی ولیکی .

خ

خټکی



ښوونکی دې له زده کوونکو څخه لاندې پوښتنې وکړي ؛

۱- دا رسم د څه شي دی ؟

۲- تاسو خټکی لیدلی دی ؟

۳- خټکی څنګه شکل لري ؟

۴- د خټکي خوراک بدن ته ګټه رسوي او که نه ؟

۵- خټکی چې پوخ شي رنګ یې څه خیل اوړي ؟

۶- ایا تاسو په پټیو کښې خټکي کرئ ؟

د

دین

زموږ دین اسلام دی. کافران د دین دښمنان دي.

۱- زموږ دین څه نومیږي؟

۲- اسلام د چا دین دی؟

۳- د اسلام دین موږ ته چا رالیږلی دی؟

۴- موږ ته د اسلام دین چا راوسولی دی؟

۵- زموږ د دین دښمنان څوک دي؟

۶- د دین د دښمنانو سره باید څه وکړو؟

ښاغلی ښوونکی دې خپل شاګردان وپوهوي چې:

۱- د دین په کلمه کې لومړی توری «د» بلل کیږي.

۲- دغه راز دیګ، دکان، دادا کلمې هم په «د» پیل کیږي.

۳- د «د» د توري لیکل په هوا او کتابچو کې تمرین کړي.

۴- توري داسې کلمې پیدا کړي چې په پیل، منځ یا پای کې يې «د» راغلی وي.

د

دېګ

۱ـ دا شکل پېژنې ؟

۲ـ دېګ څوک جوړوي ؟

۳ـ تاسې په کورکښې کتغ په څه شي کښې پخوی ؟

۴ـ تاسوکره څو ډوله دېګونه شته ؟

۵ـ ستاسو په کلي کښې څوک غټ دېګ لري ؟

۶ـ خلک په غټ دېګ کښې کوم شیان پخوي ؟

۷ـ ستاسو په کلي کښې د دېګونو خرڅولو دکان شته ؟

۹- په اذان کې څو ځلې الله اکبر ویل کیږي ؟

۱۰- د « الله » او « اکبر » کلمو په سر کې حرف (توری) څه نومیږي ؟

ښاغلي ښوونکي دې د زده کوونکو څخه د پوښتنو کولو په وخت کې هڅوي سره د صحیح ځواب په ویلو کې مرسته وکړي .

۸ـ د ېک د څه شي لپاره استعمالیږي ؟

۹ـ تاسو څودوله د ېکونه پېژنئ ؟

۱۰ـ ستاسو مسین د ېک خوښېږي که المونیمي ؟

۱۱ـ له د ېک څخه کتنغ په څه شي را اخستیل کیږي؟



ډ

دوډۍ

١ـ دا څه شی دی؟

٢ـ دوډۍ له څه شخه جوړیږي ؟

٣ـ دوډۍ څوک پخولای شي ؟

٤ـ دوډۍ چېري پخېږي ؟

٥ـ دوډۍ خوړل څه ګټه لري؟

٦ـ ستاسو په کور کښې دوډۍ څوک پخوي ؟

٧ـ ستاسو پلار میلمنو ته دوډۍ ورکوي ؟

٨ـ ستاسو په کلي کښې څوک دوډۍ خرڅوي؟

۹ـ په بازار کښې نانوائي ولې ډوډۍ خرڅوي ؟

۱۰ـ ایا ستاسو په کلي کښې د ډوډۍ خرڅولو دکان شته ؟

۱۱ـ په تاسو کښې څوک ډېره ډوډۍ خوري؟

۱۲ـ ډېره ډوډۍ خوړل بدن ته څه ضرر لري ؟

۱۳ـ ایا په تبه هم ډوډۍ پخېږي ؟

۱۴ـ ستاسو د تبې ډوډۍ خوښه ده که د تنور؟

ذ

ذکي

۱ـ دا څوک دی ؟

۲ـ په تاسوکښې څوک ذکي دی ؟

۳ـ ستاسو ذکي هلك خوښېږي ؟

۴ـ ذکي هلك کوم صفتونه لري ؟

۵ـ ذکي چاته ویل کېږي ؟

۶ـ د ذکي او غبي هلك ترمینځ څه فرق دی ؟

۷ـ آیا ستا ورور ذکي دی ؟

۸ـ ستاسو په کلي کښې څوك ذکي دی ؟

۹ـ ذکي زده کوونکی هوښيار وي که غبي ؟

۱۰ـ ستاسو په ټولګي کښې څوک ډېر ذکي دی ؟

۱۱ـ پلار ته ذکي زوئ ګران وي که غبي ؟

ر

رمبې

۱ـ دې شکل ته څه وايي ؟

۲ـ رمبې څوک جوړوي ؟

۳ـ رمبې له څه شي څخه جوړيږي ؟

۴ـ تاسو کره رمبې شته ؟

۵ـ ستاسو په کلي کښې څوک ډېر رمبې لري ؟

۶ـ د رمبې لاستی له څه شي څخه جوړيږي ؟

۷ـ ستاسې د کور رمبې تېره دي او که پڅ ؟

۸ــ ستاسي غټ ږمبې خوښېږي او که وړوکې؟

۹ــ ستاسي د کلي پنې ږمبي جوړولای شي؟

۱۰ــ پنې یو ږمبې په څو روپۍ خرڅوي؟

ړ

ړوند

۱ـ دا څوک دی ؟

۲ـ ایا ړوند سړی شیان لیدلای شي ؟

۳ـ ستاسې په کلي کښې ړوند سړی شته؟

۴ـ د ړوند سره مرسته څه کټه لري ؟

۵ـ ړوند او بینا څه فرق لري ؟

۶ـ ړوند چاته وېل کیږي ؟

۷ـ په تا سو کښې چا ړوند سړی لیدلای دی؟

ز

زكات

زكات د اسلام څلورم بناء ده .

زكات وركول فرض دي .

زكات بې وزلوته وركول كيږي .

په زكات سره مال او پيسې پاكيږي .

۱- زكات څه ته وائي ؟

۲- زكات چا ته وركول كيږي ؟

۳- زكات وركول څه ګټه لري ؟

۴- زكات وركول څنګه دي ؟

ښاغلى ښوونكى دې خپلو شاګردانو ته معلومات وركړي چې:

۱- زكات څه ته وائي او څنګه فرض دى ؟

۲- د زكات د كلمې لومړى توری « ز » بلل كيږي .

۳- د غه راز زمرى ، زلمى ، زما كلمې هم په « ز » پيل كيږي .

۴- د « ز » ليكل په تورة تخته او كتابچوكې تمرين كړي .

ز



زمری

۱ـ دې عکس ته وګورئ؛

۲ـ تاسې زمری لیدلای دی؟

۳ـ زمري څو پښې لري؟

۴ـ زمری کوم شیان خوري؟

۵ـ زمري چیري ډېر پیدا کیږي؟

۶ـ زمری څنګه لکۍ لري؟

۷ـ زمری قوي دی او که سپی؟

۸ـ د زمري غوږونه اوږده وي او که لنډ؟

۹ـ آیا زمری په کورکښي ساتل کیږي؟

بناغلي منوونكي دې زده کوونکي وپوهوي چې :

۱- د الله اکبر او اذان په کلموکې لومړی توری الف بلل کیږي.

۲- د غه راز د اسلام، انګور، امسا، احمد، اس کلمې هم په الف پیل کیږي.

۳- الف له پاسه نه کښته لور ته داوږدې کوښې په راښکلو سره لیکل کیږي.

۴- د الف لیکل څو ځلې په هوا او بیا په کتابچوکې تمرین کړي.

۵- نورې داسې کلمې پیدا کړي چې په الف پیل کیږي.

۶- داسې نمونه پیدا کړي چې په منځ یا اخرکې یې الف وي.

۷- د سهار، سبا، انار، دکان، چنار، بابا په کلموکې دالف موقعیت پیدا کړي.

ږ

ږمنځ

۱- په رسم شوي شکل کښې څه گورئ ؟

۲- دا له څه شي څخه جوړېږي ؟

۳- ږمنځ د څه شي لپاره په کارېږي ؟

۴- تاسې ږمنځ لرئ ؟

۵- په ږمنځ څه کوئ ؟

۶- دغه ږمنځ څه رنګ لري ؟

۷- د ږمنځې غابونه څه کار ورکوي ؟

۸ـ تاسي کوم رنګ بزمنځ خوښوئ؟

۹ـ بزمنځ د سر ویښتانو لپاره څه ګټه لري؟

۱۰ـ دا بزمنځ لویه ده که وړه؟

ژ

ژبه

۱ـ دا شکل، رسم، پېژنئ ؟

۲ـ ژبه د انسان په کوم ځای کښې وي ؟

۳ـ د ژبې اخرنۍ برخې ته څه وايي ؟

۴ـ ژبه له څه شي څخه جوړه شوې ده ؟

۵ـ څوک چې په ژبه خبرې نه شي کولی هغه ته څه وايي ؟

۶ـ ژبه د انسانانو لپاره څه ګټه لري ؟

۷- څوک چې په خوږه ژبه له نورو سره خبرې

کوي، خلکو ته څنګه ښکاري؟

۸- د انسانانو او حیواناتو په ژبه کښې څه فرق دی؟

۹- غاښونه د ژبې سره په خبرې کولو کښې برخه

اخلي او که نه؟

۱۰- ژبه د انسان په خوله کښې څه وظیفه لري؟

س

سپوږمۍ

۱- تاسې دا تصویر (شکل) لیدلی دی؟

۲- دا د څه شي رسم دی؟

۳- سپوږمۍ په کوم ځای کښې وي؟

۴- تاسې سپوږمۍ کله کوری؟

۵- د څوارلسمې شپې سپوږمۍ څنګه ښکاري؟

۶- سپوږمۍ د میاشتې په اوّل کښې څنګه ښکاري؟

۷- په کومو شپو کښې چې سپوږمۍ نه وي شپه څنګه وي؟

۸ـ سپوږمۍ د ورځې ولې نه ښکاري؟

۹ـ تاسې په شپه کښې پرته له سپوږمۍ نور-
کوم شیان ګورئ؟

۱۰ـ سپوږمۍ چا پیدا کړې ده؟

ش



شمع

١ـ دا د څه شي شکل دی؟

٢ـ انسان له شمع څخه څه ګټه اخلي ؟

٣ـ تاسې د شمع په رڼا کښې د شپې سبق لولئ؟

٤ـ شمع د ورځې په کار یږي ؟

٥ـ تاسې شمع کله بلوئ ؟

٦ـ د شمعې رڼا ډېره ده که د بجلۍ ؟

۷- شمع څنګه بلوی ؟

۸- د شمع په منځ کښې څه وي ؟

۹- تاسې په کورو کښې په شمعې علاوه له څه شي څخه کاراخلی ؟

۱۰- شمع په کوم ځای کښې خرڅیږي ؟

ښ



ښارو

ښوونکی صاحب دې د ښارو تر عنوان لاندې پوښتنې وکړي:

۱ـ دا شکل پېژنې ؟

۲ـ د دې شکل نوم راته ووایاست ؟

۳ـ ښارو څه رنګ لري ؟

۴ـ ښارو په څه الوزي؟

۵ـ ښارو څنګه دانه خوري ؟

۶ـ ښارو څو پښې لري ؟

۷ـ ښارو څو وزرونه لري ؟

۸ـ د ښارو ځاله موليدلې ده ؟

۹ـ ښارو هګۍ اچوي اوکه نه ؟

۱۰ـ د ښارو د بچومړه کول څنګه دي ؟

ا

اس



ښاغلی ښوونکی دې له شاگردانو څخه د"اس"عنوان مطابق دا لاندې پوښتنې وکړي :

۱ـ دا رسم د څه شي دی؟

۲ـ ایا تاسې اس لیدلی دی ؟

ص



صندوق

۱ـ دا شکل پېژنئ ؟

۲ـ ستاسې په کور کښې صندوق شته ؟

۳ـ خلک له صندوق څخه څه ګټه اخلي ؟

۴ـ صندوق په کوم ځای کښې خرڅېږي ؟

۵ـ د صندوق د خلاصولو په چل پوهېږئ ؟

۶ـ صندوق له څه شي نه جوړيږي ؟

۷ـ تاسې کوم ډول صندوق خوښوی؟

۸ـ دلوی صندوق او وړوکي صندوق په بيه کې څه فرق وي ؟

۹ـ تاسې خپلې جامې په څه کښې ساتئ ؟

۱۰ـ قفل «قلف» د صندوق لپاره ولې په کاريږي؟

ض

ضعیف

۱- دې شکل ته وګورئ!

۲- دا سړی ځوان دی که زوړ؟

۳- ضعیف سړی ولې کړوپ کړوپ ځي؟

۴- د ضعیف سړی خدمت کول څنګه کار دی؟

۵- تاسې ضعیف سړي ته سلام اچوئ؟

۶- ضعیف سړی پر موږ څه حق لري؟

۷ـ د ضعيفانو سره مرسته د چا کار دی؟

۸ـ ضعيف چا ته وايل کيږي ؟

۹ـ که ستا سو موريا پلار ضعيف وي، څه مرسته ورسره کوئ ؟

ط

طوطي

۱ـ دې شکل ته وګورئ!

۲ـ چې ومو پېژندل نو څه نومېږي ؟

۳ـ تاسې طوطي لېدلي دي ؟

۴ـ طوطي څنګه مښوکه لري ؟

۵ـ ځينې خلک ولې طوطيان ساتي ؟

۶ـ طوطي څو پښې لري ؟

۷ـ د طوطي غوښه د خوړلو ده او که نه ؟

۸ـ طوطیان په څه الوزي ؟

۹ـ تاسي څورنګه طوطیان لیدلي دي ؟

۱۰ـ د طوطي لکۍ اوږده وي که د ښارو؟

ظ

ظالم

۱- په دغه شکل کښې دا-
سړی څنګه معلومېږي ؟

۲- ظالم چاته وېل کېږي ؟

۳- ستاسې ظالم سړی خوښېږي ؟

۴- ظالم ته ولې خلک بد وايي ؟

۵- روسانو ته ولې ظالمان وايي ؟

۶- تاسو بايد د ظالم سره څه وکړی ؟

۷ـ پر تا سو کله ظلم شوی دی ؟

۸ـ "الله پاک ج" د ظالم سره په اخرت کښې څه کوي ؟

۹ـ ستاسو په کلي ظالم سړی شته ؟

۱۰ـ ظالم له چا سره بد کوي ؟



ع

عالم

۱- دا سړی څوک دی ؟

۲- تاسې عالم سړی پېژنئ ؟

۳- د چا پلار عالم دی ؟

۴- عالم چا ته ویل کېږي ؟

۵- عالم سړی خلکو ته څه شی وړښيي ؟

۶- تاسې د عالم ادب کوئ ؟

غ

غوا

١ـ دا د څه شي شکل دی ؟

٢ـ له غوا څخه څه ګټه اخلی ؟

٣ـ ستاسي په کلي کښي څوک غوا لري ؟

۴ـ د غوا تازه ایشولي شېدې موخوړلې دی اوکه نه؟

۵ـ د غوا له شیدو څخه کوم څیزونه جوړیږی ؟

٦ـ غوا ته خلک څه خواړه ورکوي ؟

٧ـ د غوا شېدې ستاسو خوښې دي ؟

۳- څوك په كور كې اس لري ؟

۴- اس د څه لپاره په كار يږي ؟

۵- ستاسې اس څه ډول رنګ لري ؟

۶- ستاسې په كلي كښې څو اسونه دي ؟

۷- اس څوپښې او څوغوږونه لري ؟

بيا دې ښوونكى خپل زده كوونكي و پوهوي چې د اس په كلمه كښې لومړى توری (الف) دى .

ښوونكى دې د (الف) شكل د اول ځل لپاره د ګوتې په واسطه په هوا كښې وكاږي .

لكه : (ا)

بيا دې ښوونكى يو يو زده كوونكى د ټولګي مخې ته راوغواړي او د (الف) د توري ليكل دې ورباندې په هوا كښې مشق او تمرين كړي .

۸ـ د ناروغه غوا شيدې خلک ولې نه خوري؟

۹ـ چاغه غوا ډېرې شيدې کوي که دنګره؟

۱۰ـ ستاسې غوا څه ډول رنګ لري؟

ف

فیل



۱ـ دا شکل پېژنې ؟

۲ـ دا څه نومېږي ؟

۳ـ تاسې فیل لیدلی دی ؟

۴ـ فیل څو پښې لري ؟

۵ـ فیل له خپل خلتم څخه څه کار اخلي ؟

۶ـ انسان د فیل نه څه کټه اخلي ؟

۷ـ اوښ لوئ دی که فیل ؟

۸ـ تاسې کله په فیل سپاره شوي یاستئ؟

۹ـ فیل څوغوږونه لري؟

۱۰ـ تاسې کله د فیل نوم اوریدلی وو؟

قرآن کریم

۱ـ دا رسم د څه شي دی ؟

۲ـ ایا تاسي قرآن کریم پېژنی ؟

۳ـ ایا تاسي په کور کښې قرآن کریم لری ؟

۴ـ له تاسي څخه څوک په قرآن کریم ښه پوهیږي ؟

۵ـ قرآن کریم د چا کتاب دی ؟

۶ـ قرآن کریم په کوم پیغمبر (ص) نازل شوی دی ؟

۷ـ مسلمانان قرآن کریم څنګه ساتي ؟

۸ـ ایا د قرآن کریم تلاوت کول ثواب لري ؟

۹ـ ستاسي پلرونه د قرآن کریم تلاوت کوي ؟

۱۰ـ کمونستان ولې په قرآن کریم ایمان نه لري ؟

ک

کټ



۱ـ دا عکس پېژنئ ؟

۲ـ کټ څوک جوړوي ؟

۳ـ کټ له څه شي څخه جوړېږي ؟

۴ـ کټ څو پښې لري ؟

۵ـ کټ څو اوږده او څو لنډ بازوګان لري ؟

۶ـ تاسې په کورکښې کټ لرئ ؟

۷ـ تاسې خوب په څمکه کوئ او که په کټ کښې ؟

۸ـ ستاسې د کلي ترکاڼ کټ جوړولی شي ؟

۹ـ ستاسې په کور کښې د کټ په بڼلو څوک پوهیږي ؟

۱۰ـ کټ په څه شي بڼل کیږي ؟

۱۱ـ ستاسې د کلي په حجره کښې څو کټونه دي ؟

ګ

ګل

١ـ دا د څه شي رسم دی ؟

٢ـ تاسې ګل لیدلی دی ؟

٣ـ ګلان چیرته پیدا کیږي ؟

٤ـ ستاسې په باغ کښې ګلان شته ؟

٥ـ څو ډوله ګلان پیژنئ ؟

٦ـ تاسې کوم ډول ګلان خوښوی ؟

٧ـ ګلان د څه لپاره په کاریږي ؟

۸ـ په کوم موسم کښې کلان دېروي ؟

۹ـ په کورونو او باغونو کښې د کلانو کرل څه کټه لري ؟

۱۰ـ که د څو کلونو څخه کېږي جوړه کړئ، ـ د کلو دا کېدی په څه نامه یادیږي ؟

ل



لور

۱- دا د څه شي رسم دی ؟

۲- تاسې لور لیدلی دی ؟

۳- لو په څه کیږي ؟

۴- په کور کښې لور لرئ ؟

۵- پخ او تېره لور څنګه پېژنئ ؟

۶- لور له څه شي څخه جوړیږي ؟

۷- لور د چا لپاره په کار یږي ؟

۸- ستاسې د کلي پښ لور جوړولی شي ؟

له دې نه وروسته دې ښوونکی د «الف» توري پر توره تخته وليکي، او بيا دې په ټولو زده کوونکو د «ا» د توري ليکل پر تخته مشق او تمرين کړي.

بيا دې ښوونکی خپل زده کوونکي په ګروپونو وويشي ترڅو يوله بل څخه د «الف» د توري د رسمولو او ليکلو پوښتنې وکړي.

ښوونکی دې د «الف» توري د اس په کلمه کښې زده کوونکو ته په کتاب کښې ور وښيي.

په پای کښې دې ښوونکی زده کوونکو ته کورنۍ وظيفه ورکړي چې د «الف» توري څو ځلې په خپلو کتابچو کښې مشق او تمرين کړي.

ښوونکی دې د الف د توري د درس په پای کښې د نوموړي توري د پېژندلو او ليکلو پر شاګردانو تمرين کړي.

۹ـ تاسې لور په کوم ځای کښې اخلی ؟

م

منګی

۱- دا عکس پېژنی ؟

۲- تاسې په کور کښې څو منګي لری ؟

۳- منګی څوک جوړوي ؟

۴- منګی له څه شي څخه جوړېږي ؟

۵- منګی د څه لپاره په کاریږي ؟

۶- ستاسې په کلي کښې کلال شته چې منګي جوړ کړي ؟

۷ـ ستاسي د کلي سره په نږدي بازارکښې منګي خرڅيږي ؟

۸ـ منګی او چاټي څه فرق لري ؟

۹ـ لوی منګي سنبه وي او که واړه ؟

۱۰ـ کلالان له خټو څه کوم شيان جوړوي ؟



ن

ناک

۱ـ دا د کومې میوې عکس دی؟

۲ـ تاسې د ناک میوه لیدلې ده؟

۳ـ تاسو د ناک میوه خوړلې ده؟

۴ـ ناک څه ډول خوند لري؟

۵ـ ستاسو په وطن کښې د ناک ونې شته؟

۶ـ د ناک میوه په کوم وخت کښې پخېږي؟

۷ـ ناپاکه ناک روغتیا ته څه تاوان لري؟

۸ـ ناك موخوښبيږي اوكه مڼي ؟

۹ـ ستاسي دكلي په دوكان كښې كومې تازه
مېوې خرڅيږي ؟

۱۰ـ ناك او انارڅه فرق لري ؟



ڼ

منه

۱ـ دا رسم پېژنئ ؟

۲ـ منه او هندواڼه څه فرق لري ؟

۳ـ تاسو منه خوړلې ده ؟

۴ـ ستاسو په کلي کښې د منو باغ شته ؟

۵ـ منه ښه ده که نارنج ؟

۶ـ منې په کوم موسم کښې پخېږي ؟

۷ـ ډېرې منې چېرته پیدا کېږي ؟

۸ ـ دخامي مني خوړل بدن ته څه تاوان لري؟

۹ ـ د چینجني او ناپاکې مني خوړل څه ضرر لري؟

۱۰ ـ منه څنګه خوند لري؟

ونه

۱ـ دا رسم د څه شي دی ؟

۲ـ دا ونه پېژنې ؟

۳ـ تاسو د توت ونه لیدلې ده ؟

۴ـ ستاسو په کلي کښې د توت ونه شته ؟

۵ـ د توت ونه په کوم وخت کښې توتان کوي ؟

۶ـ خلك د توت له لرګیو څخه کومې ګټې اخلي ؟

۷ـ د توت ونه باید په کوم ځای کښې وکرل شي ؟

۸ - د توت ونه کوم وخت پاڼې کوي ؟

۹- د توت ونه په کوم وخت کښې پاڼې تویوي ؟

۱۰- توتان او انځر څه فرق لري ؟

هـ

هګۍ

۱ـ دا شکل د څه شي دی ؟

۲ـ هګۍ څه ډول رنګ لري ؟

۳ـ د چرګې هګۍ غټه وي که د چرچڼې ؟

۴ـ ستا چرګانې هګۍ اچوي ؟

۵ـ یوه چرګه په ورځ کښې څو دانې هګۍ اچوي ؟

۶ـ ستاسو په کلي کښې د یوې دانې هګۍ بیه څو ده ؟

۷ـ د چرګې د غوښې خوړل ګټور دي که د هګیو ؟

ب

باغ

ښوونکی دې له زده کوونکو څخه لاندې پوښتنې وکړي؛

۱- دا د څه شي رسم دی؟

۲- باغ څه شي ته وايي؟

۳- ایا تاسې باغ لرئ؟

۴- ستاسو په کلي کښې څوک باغ لري؟

۸ــ هګی خوږ بدن ته څه ګټه لري ؟

۹ــ هګی او بادرنګ څه فرق لري ؟

۱۰ــ که دیوې چرګې لاندې هګۍ کېښنودل
شي څو ورځې وروسته بچي وباسي ؟



ی

یوم

۱ـ دا رسم څوک پېژني ؟

۲ـ تاسو یوم لیدلی دی ؟

۳ـ یوم څوک جوړوي ؟

۴ـ یوم له څه شي څخه جوړېږي ؟

۵ـ یوم د څه لپاره په کارېږي ؟

۶ـ تاسو کله په یوم کار کړی دی ؟

۷ـ ستاسي د کلي پښ او ترکاڼ یوم جوړولی شي ؟

۸ـ یوم د چا د پر په کاریږي ؟

۹ـ دیوم لاستی له څه شي ځنې جوړیږي ؟

۱۰ـ دیوم او بیلچې ترمینځ څه فرق دی ؟

د الفباتوري

ټ	ت	پ	ب	ا
خ	ح	چ	ج	ث
ذ	ډ	د	ځ	څ
ژ	ږ	ز	ړ	ر
ض	ص	ښ	ش	س
ف	غ	ع	ظ	ط
م	ل	ګ	ک	ق
ی	ه	و	ڼ	ن

یا دونه، لاندې الفبا توري بې ترتیبه لیکل شوي دي،
ښاغلی ښوونکی دې د لاندې تورو په واسطه خپل زده کوونکي ازمایښت
کړي !

ځ	ښ	ژ	ږ	م
ن	ی	ړ	ا	ج
س	ف	ل	ډ	ت
پ	ح	ب	چ	ټ
څ	ث	خ	د	ش
ذ	ز	ص	ظ	ض
ط	غ	ک	ع	ق
ڼ	و	ه	ر	ګ

ا

اس

دا اس دی.

دا زما اس دی.

دا اس زما دی.

ب

باغ

دا باغ دی.

دا باغ ښین دی.

دا ښین باغ دی.

پ

پیاله

دا پیاله ده.

دا پیاله نوې ده.

دا نوې پیاله زما ده.

ت

توره

دا توره ده .

دا توره تېره ده .

دا د مجاهد توره ده .

ټ

ټوپک

دا ټوپک دی .

دا ټوپک زما دی .

زما ټوپک نوی دی .

۵ ـ ایا ستاسې په باغ کښې د کلانو بوټي شته ؟

٦ ـ په باغ کښې کوم ډول میوه لرونکې ونې وي ؟

٧ ـ ایا ستاسې په باغ کښې د منو ونې هم شته ؟

٨ ـ ستاسې په کلي کښې د چا باغ لوئ دی ؟

٩ ـ باغوان په باغ کښې څه کار کوي ؟

١٠ ـ باغوان له باغ څخه څه گټه اخلي ؟

ث

ثمر

زما ثمر خوښیږي .

زما د پلار د باغ ثمر خوښیږي .

ثمر د هرچا خوښیږي .

ج

جام

دا جام دی.

دا جام سپین دی.

زما سپین جام خوښیږي.

چ

چرګ

دا زما چرګ دی.

زما چرګ سپین دی.

زما سپین چرګ غټ دی.

ح

حج

حج فرض دی.

زما پلار حج کړی دی.

د مجاهد پلار حج کړی دی.

خ

ختګی

دا ختګی دی .

دا ختګی پوخ دی .

پوخ ختګی خوږ وي .

خوږ ختګی د هر چا خوښیږي .

څ

څپلی

دا څپلی دي.

دا څپلی زما دي.

زما څپلی تورې دي.

زما پلار مجاهدینو ته څپلی اخلي.

ځ

ځاله

دا ځاله ده.

دا د مرغۍ ځاله ده.

مرغۍ په ځاله کښې هګۍ اچوي.

د مرغۍ په ځاله کښې هګۍ دي.

د

دیګ

دا دیګ دی.

دا دیګ نوی دی.

دا لوی دیګ نوی دی.

زما نوی دیګ خوښیږي.

ډ

ډوډۍ

دا ډوډۍ ده.

زه ډوډۍ خورم.

ډوډۍ د هرچا خوښیږي.

زما پلار مجاهدینو ته ډوډۍ ورکوي.

ذ

ذکي

دا هلك ذکي دی.

دا ذکي هلك پاك دی.

ذکي هلك د هرچا خوښیږي.

ذکي هلك پلار ته ګران وي.

پ

پياله

له زده کوونکو څخه دې لاندې پوښتنې وشي :

۱ـ دا رسم پېژنئ ؟

۲ـ پياله د څه شي لپاره استعمالېږي ؟

۳ـ تاسې چاى په څه شي کښې څښئ ؟ او اوبه په څه شي کښې څښئ ؟

۴ـ ستاسې څه ډول پيالې خوښېږي ؟

AFGHANISTAN EDUCATION COMMITTEE

اِقرَأ...

پښتو لوست

د لومړی ټولګی لپاره

۱۳۶۵ هـ ش کال

پښتو لوست

لومړی ټولګي لپاره

کال : ۱۳۵۶ هـ ش

مؤلفین :

انجنیر مطیع الله ، محمد ایاز « ملنګیار »

سید عیسیٰ « نیکمل » او سرمعلم محمد ګلاب

مشورتي غړي :

باطن شاه « صافی » او روږه ګل « وحدتي »

بسم الله الرحمن الرحیم

د لومړي ټولګي لپاره د پښتو د لوست کتاب

سریزه: د لومړي ټولګي لپاره د پښتو د لوست کتاب دوه عمده برخې لري.

الف - لومړۍ برخه: په لومړۍ برخه کې ټول هغه توري ښودل شوي چې د پښتو ژبې په خبرو اترو کې راځي. د هر توري د معرفي کولو په غرض یوې داسې شکلونه هم کښل شوي دي چې زده کوونکي ور سره په خپل چاپېریال کې سروکار لري. د دغو شکلونو نومونه زیاتره داسې کلمات دي چې په سر کې یې هماغه توری راغلی دکوم چې زده کوونکو ته ښوول کېږي. د کتاب په لومړۍ برخه کې یو لړ پوښتنې راوړل شوې چې ښوونکي یې باید د خپلو زده کوونکو څخه په هر توري پورې د مربوط شکل په باره کې وپوښتي او زده کوونکي هم په خپل منځ کې دغه ډول سوال او جواب او بحث کولو ته وهڅوي. د دغه راز ځینې توري یوې د نمونې په ډول د مختلفو کلمو په پیل، منځ او پای کې راوړل شوي چې له یوې خوا ښوونکي ته لار ښوونه کوي تر څو د نورو تورو د تدریس په وخت کې هم دغه طریقه تعقیب او عملي کړي او له بلې خوا زده کوونکو ته

د بيلا بيلو کلمو په مختلفو برخو (سر، منځ، آخر) کې د توري د شکل او موقعيت ښودنه کوي.

ب: دوهمه برخه :- دوهمه برخه د لومړۍ برخې سره پاڅکې په پاڅکې داسې ارتباط لري چې ټول توري او کلمات يکې بيا راوړل شوي او هره کلمه ئې د عنوان په ډول تا کل شوې ده تر هر عنوان لاندې لنډې او ساده جملې راوړل شوي چې زده کوونکو ته د مختلفو کلمو څخه د جملو جوړولو لاره ور په ګوته کوي. کارول شوې جملې که څه هم ساده دي خو زده کوونکو ذوق او علاقې او روانو حالاتو په غوښتنه ترتيب شوې دي تر څو زده کوونکي ترې دخپل چاپيريال او اړتيا وړ شيانو په باره کې معلومات لاس ته راوړي او د راتلونکو زده کړو لپاره ئې وينې او بيدار کړي.